بېګانه ښځو ته له ورتللو ډډه وکړئ» نو یوه انصاري وویل: اې د الله رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه، هغه وویل: «د خاوند خپلوان مرګ دی

له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «بېګانه ښځو ته له ورتللو ډډه وکړئ» نو یوه انصاري وویل: اې د الله رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه، هغه وویل: «د خاوند خپلوان مرګ دی».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم له پردیو ښځو سره له اختلاط نه منع کړې او فرمایلي یې دي: پر ځانونو ووېرېږئ کله چې تاسو پردیو ښځو ته ورننوځئ او یا پرد ښځې ستاسو کورونو ته درننوځي. نو یو انصاري وویل: د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه؟ لکه د مېړه ورور، وراره، تره، د تره زوی، د خور زوی او داسې نور، چې د ښځې نکاح ورسره کېږي که چېرته یې نکاح نه وای شوې؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: له هغه څخه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې له مرګ نه وېرېږئ! ځکه چې له خسر خپلو سره یوازېتوب په دین کې د فتنې او هلاکت سبب ګرځي، نو د مېړه له پلار او زامنو پرته نور بېګانه خپلوان خو په طریقه اولی سره منع دي؛ ځکه چې د خاوند له خپلوانو سره یوازېتوب د بل چا په پرتله ډېر پېښېږي، او د نورو په پرتله ترې د بد تمه ډېره کېږي او په فتنه کې د ښکېل کېدلو احتمال ډېر دی، ځکه چې په اسان سره ورتللی شي او کولی شي له کوم اعتراض پرته ورسره یوازېتوب ولري، او دا چې چاره ترې نشته او مخنیوی یې ناشونی دی، ځکه چې د دود له مخې خلک پدې اړه سختي نه کوي، نو یو سړی د خپلې ورېندار سره ګوښه کیني، چې دا د فساد له اړخه د مرګ سره ورته والی لري، د بېګانه سړي برعکس چې له هغه نه خو بېخي ډډه کول په کار دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5888